احمد کایا - ترکي سندرغاړی

ژباړه: فرهاد ویاړ


۲۳ نومبر ۲۰۱۲

## سرغړونه کوم

ځواب ورکوم:

له هغو میندو چي لاسونه یي په ملا کي نیولي

له زندانیانو او له دردونو

زیات بحث کوم، ځکه چي

له هغو کسانو چي سرونه په خاوره کي پټوي، کرکه لرم

سرغړونه کوم

او ژمنه کوم

چي بدنامه ځایونه

او بدنامه کارونه

به زما له نوم سره تړاو ونه مومي.

زه د ولس د ځنګله یو ګل یم

غوړیدلی یم، سرغړونه کوم.

زه د چاړی هغه څوکه یم

چي د خپل ولس لپاره جنګیدلی

سرغړونه کوم، هي بیا وایم

د تړل شویو سترګو له ډارونو

له ممنوعیتونو، له یرغلونو

هیڅکله نه په شا کیږم

ځکه چي نور د ویني ښونکي ښاپیرکی ښخه لیوني شوی یم

سرغړونه کوم؛ ژمنه کوم چې
د څو بی شرفو کاغذ پلورونکو لاره
د تسلیم او رنځ لاره
به زما لاره نه وي
زه د ولس د سیند څپه یم
څپانده یم، سرغړونه کوم
زه د توپک د شپیلی خولګی یم
پر ولسونو ډاډمن
دا دی سرغړونه کوم.